سميع الدين افغاني

۲۰۱۵/۰۵/۱۸

# د قدرت ليوني

چي د دين په نوم وطن او هم ايمان خرڅوي
دا د قدرت ليوني ځکه خپل وجدان خرڅوي

دوئ د هستي مفهوم په مکر او دوکو کې ويني
دي بې خبره له دې رازه چي خپل شان خرڅوي

وي منافق چي په زړه يو په خوله کې بله وايي
دوئ د لعنت په تله ځان په لوی شيطان خرڅوي

لويه ګناه ده چي د دين په نوم دوکه کوي څوک
دا دون صفته مو هستي په سپين ميدان خرڅوي

په هر مجلس کې کړي د عدل او انصاف خبرې
که لاس يې برشي د نيکه نوم او نشان خرڅوي

تل په دوکو او چلو ول کاذب شهرت لري دوئ
پرون منکروه نن د پاک دين پيروان خرڅوي

خپل شوم مقصد وررسيدو ته دوئ فتنې زيږوي
صرف ديو څو پيسو بدل کې مسلمان خرڅوي



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په خير و لولئ

دوطن مینه دوئ کې نه شته نه انصاف لري دوئ

دا شرمیدلي زمونږ ګران افغانستان خرڅوي

افغاني پوه یمه پدې چې مخ تورن به وي تل

چې په دوکه، فریب څوک کور دهر افغان خرڅوي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ